دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت خلورم کال، ۳۳ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۴ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د لیندی ۱۵ مه د۱۴۳۳ هـ ق د محرم الحرام ۲۱ مه د۲۰۱۲ م د دسمبر ۵ مه

درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لوېي او فساد هڅې نه کوي. او آخرنۍ برې د پرهیزګارانو په برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به یې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدۍ سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهغوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایمان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنودی الله باشد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناگوار باشد». (صحیح بخاری)

امریکا بار دیگر تلاش های جدی تماس با طالبان را آغاز می کند

PROPERTY OF ACKU

از مذاکرات پراکنده در دوسال گذشته، طالبان در ماه مارچ این مذاکرات را متوقف ساخته و ایالات متحده را متهم نمودند که در این مذاکرات جدی نیست، مخصوصاً در آزادی محبوسین طالبان از زندان گوانتانامو

مقامات بلند رتبه قصر سفید و وزارت خارجه امریکا بار دیگر بر موقف این کشور در رابطه با مذاکرات صلح با طالبان در افغانستان پافشاری می کنند، از جمله تمایل برای تبادله اسرا با طالبان.

این در حالیست که وزارت دفاع امریکا در مجلس شورای امنیت ملی این کشور دو هفته قبل در مورد مذاکرات با طالبان بی میلی نشان داد.

اما وزیر خارجه امریکا هیلاری کلنتن در ملاقات با وزیر خارجه پاکستان حنا ربانی کهر در بروکسل پیام واضح را فرستاد که امریکا خواهان مصالحه با طالبان در افغانستان می باشد. او همین طور از پاکستان خواست که در تلاش های حکومت افغانستان برای مذاکرات جداگانه با طالبان، همکاری نماید.

به نوشته واشنگتن پوست درین اواخر چنین علامت ها وجود دارند که روابط

بقیه در صفحه ۳

په افغانستان کې به د تروریستانو په پټنځایونو عملیات ترسره کړو — (رحمان ملک)

دغه عملیات به دپاکستان دتحریک طالبانو په دوو پیاړویو غړیو مولوي فضل الله او فقیرالله باندې کېږي

د افغانستان د ولسي جرګې یو شمېر غړي د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر دغه څرګندونې غیر مسوولانه بولي.

کابل، رسنۍ:

د پوځي چارو یو شمېر افغان کارپوهان وایي، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر وروستی څرګندونې چې ګواکې موږ به په افغانستان کې پوځي عملیات وکړو د افغانستان په خاوره ښکاره تیری ګڼي.

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر رحمن ملک ویلي و، دغه عملیات د پاکستان د تحریک طالبانو په دوو پیاړویو غړیو د مولوي فضل الله او فقیرالله پسې کېږي.

پاکستان ادعا لري، چې یاد کسان د افغانستان په ختیځ کې پټ شوي او په پاکستان کې عملیات کوي.

پاتې ۳ مخ

د مجلغو پر بند بوږنوونکي راپور خپور شو — (دې ټایم)

په رپوټ کې دهرات دسلما بند په اړه هم تبصره شوې ده. دټایم په وینا سلما هغه بند دی چې له جوړېدو سره به یې ۱۸۵ زره ایکړه ځمکه خړوب شي او ۴۲ مېګا واټه برېښنا به تولید کړي. د دغه بند جوړېدل څلور کاله تر ټاکلي وخت ځنډېدلي دي او لګښت یې دوه برابره زیات شوی

امریکایي مجله (دې ټایم) په افغانستان کې د مجلغو بند د ساتونکي په اړه یوه بوږنوونکی رپوټ خپور کړی دی. د رپوټ سرلیک دی: "پاکستان او ایران له افغانستان څخه څه غواړي: اوبه".

رپوټ چې د طالبانو د یوې ویډیو له مخې چمتو شوی دی، په لومړي سر کې د خان ولي په نامه د یوه افغان د وژنې کیسه کوي. خان ولي په پکتیا کې د مجلغو بند د ۶۰ کسیزې ساتونکې ډلې مشر و. حکومت له ده سره ژمنه کړې وه چې که د بند سیمه یې تر دوو میاشتو پورې وساتلی شوه، نو ډلې ته به یې وسلې او پیسې ورکړي، خو خان ولي ۲۰ ورځې وروسته د طالبانو لاسته ورغی. په ویډیو کې ښودل کېږي، چې خان ولي د یوه وسله وال کس له خوا پر نورو کسانو ګرځول کېږي او اړ کېږي چې دا جمله تکرار کړي: «دا ظلم نه دی- دا عدالت دی». یو بل وسله وال وایي، چې: په خدای قسم دی چې په ۸۲ ملي متري توپ باندې د ده وژل کافي

پاتې ۴ مخ

په غور ولایت کې د حزب اسلامي افغانستان شنه جنډه ورپیده

(عبدالله کامه وال)

دغور ولایت په مرکز چغچران کې دحزب اسلامي افغانستان ولایتي دفتر د یو لړ شاندارو مراسمو په ترڅ کې پرانستل شو.

یاده غونډه د دوشنبې په ورځ سهار نهه بجې دغور ولایت په ښاروالی تالار کې دسلګونو مجاهدینو په ګډون دعظیم الشأن قرآن کریم په تلاوت پرانستل شوه.

غونډې ته د کابل نه د ورغلي پلاوي مشر د اجرائیه شوری غړی او د ولایاتو مسؤول الحاج مدیر سید رحمن واحدیار پرانیستې وینا وکړه او د حزب اسلامي ورونه یې په روانو حالاتو کې خپلو درنو مسؤلیتونو ته متوجه کړل او د مجاهدینو ترمنځ پر یووالي او همکارۍ یې ورته عالمانه وینا وکړه. پدې درنه غونډه کې دغور د محترم والي په شمول په جنوب غرب حوزه کې دحزب اسلامي افغانستان مشر قاضي بسم الله بسمل، جهادي قوماندان کمال الدین مودودي، د غور ولایتي چارواکو، قومي سپین ږیرو، جهادي قوماندانانو او غور میشتو حزبیانو برخه اخیستې وه.

در مجموع من طرفدار برنامه پولیس محلی نیستم — (مجتبی پتنګ)

کارشناسان امور امنیتی از این اقدام وزارت امور داخله استقبال کرده می گویند، که پولیس محلی تربیه نظامی را نداشته و نمی توانند امنیت را درمنطقه تامین نمایند

کابل، رسانه ها:

جنرال مجتبی پتنګ وزیر داخله افغانستان از یک سلسله تغییرات و ایجاد ستراتیژی جدید برای پولیس خبر میدهد. وی که به روز سه شنبه در اجلاس عمومی مشرانو جرګه افغانستان سخنرانی می کرد گفت که کار بالای ادغام پولیس محلی در چوکات پولیس ملی را روی دست دارد.

جنرال مجتبی پتنګ گفت که پولیس محلی در بعضی مناطق افغانستان موثر و در بعضی جا ها مضر تمام شده اند. به گفته آقای پتنګ در این اواخر اعتماد مردم نسبت به پولیس محلی کاهش یافته است.

"در مجموع من طرفدار برنامه پولیس محلی نیستم زیرا آنها در بعضی جاها مفید و در

بقیه در صفحه ۴

مړه یې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

دریم مخ

حلال او حرام دواړه څرګند دي خو عمل کوونکي ورباندې نشته!

محمد خلیل

دویم مخ

د بیان ازادي؟!

اسدالله "لودین"

موجوده افغانستان چې د ۳۴ کالو راپدېخوا د تحمیلي جنګونو شاهد دی، ټوله ملي، فرهنګي، سیاسي او اجتماعي اداني یې متضرر شوي، سمتي، قومي، ژبني او سیاسي اختلافات اوج ته رسیدلي، د بهرنیو هېوادونو مداخلې د سېلاب په شکل جریان لري، عدالت، انصاف، تقوی او اخلاقي معیارونه په خپل اصلي قوت ندي پاتې، خارجیان د خپلو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اهدافو په خاطر حضور لري، تحمیلي جنګ هم دوام لري، بې ثباتي حاکمه ده او د حاکم نظام او اپوزیشن صحیح تعریف نشته هره ورځ د شخصي ګټو په خاطر نوی ائتلافونه او ډلې جوړېږي او بېرته ورانېږي، فقر، لوږه او بې کاري حاکمه ده، ټول کارونه اهل کار ته ندي سپارل شوي او زیات

پاتې دویم مخ

پاکستان برای رهایی مقام های ارشد طالبان، پیش شرط های دارد

به گفته رسانه های پاکستانی، در حاشیه جلسات مقامات پاکستانی و افغان. این معلوم شده است که پاکستان برای آزادی ملا برادر و تعدای دیگری از اعضای طالبان. شرط های مهمی دارد

کابل، رسانه ها:

یک مقام عالی رتبه شورای عالی صلح افغانستان به شرط آنکه نامش افشا نشود به رادیو آزادی گفته است، ایالات متحده از پروسه جاری صلح در افغانستان حمایت می کند.

این در حالی است که روزنامه اکسپرس تریبون پاکستان از قول یک مقام بلند رتبه آنکشور نوشته است، تا زمانی که امریکا موقف اش را در مورد پروسه جاری صلح در افغانستان روشن نسازد، آنها نمی توانند

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

نور د هېوادوالو صبر او زغم ختم شوي دی

د هېواد په زیاترو برخو کې مړګونو وژنو، بدامنیو، لوټ ماریو، د خلکو پر عزت او مال تیریو، د ټوپک سالارانو او زورواکانو بدمعاشیو او ظلمونو د ولس صبر او زغم ختم کړې، د امریکا، ایساف او افغان حکومت په خلاف د خلکو قهر او غصه راپاریدلې او نژدې ده چې د قهر او غصې دغه څپې توپاني شي او د هېواد په هر ګوټ کې نه قابو کېدونکی لاریونونه اورماشونه پیل شي.

د هر چا له خولې دا خبرې اوریدل کېږي چې نور موږ د حالاتو د ښه کېدو انتظار نه شو کولې، یولس کاله مو اوږد صبر وکړ، ډېرې ناخوالې او کړاوونه مو ولیدل، په زړونو مو درانه کاڼي کېښودل او ژبو ته مو غټې غټې تالې واچولې، خو د حالاتو د سمون څرک مو تر سترګو نه شو، ورځ تر بلې د ناامنی لمنه پراخه او د وژنو کچه لوړه شوه، غمونه مو څو برابره زیات او سکون مو غارت شو.

امریکا او ایساف ځواکونه چې افغانستان ته د امن د ټینګښت او د افغانانو د ژوند د ښه کولو تر شعار لاندې راغلي وو ددې پر ځای چې په افغانستان کې امنیت ټینګ او د خلکو ژوند ښه کړي برعکس امنیت یې لاپسې خراب او د خلکو ژوند یې تریخ کړی دی. اوس حالت تر دې کچه کړ کیچن شوې چې په سپکو او درنو وسلو سنبال مخالفین ډلې ډلې په قریو، کلیو او لویو سړکونو کې ښکاره ګرځي، ددې ترڅنګ د طالب په نوم هغو غلو ډاکوانو او زورواکانو هم ګروپونه جوړ کړي دي چې د یونیم لک کلدارو په بدل کې د انسان سرغوڅوي، د خلکو په کورونو ډاکې اچوي، دکانونه چوروي او تجاران تښتوي، له امریکایي ځواکونو سره ددغو ګروپونو د تړاو عمده دلیلونه دا دي چې ددغو ګروپونو مشران په پي. آر. تي ګانو کې لیدل شوي دي، نو ځکه ډېری خلک دا انګیري چې ددغو ګروپونو تر شا امریکایي او ناټو ځواکونو لاس دی، او له همدې کبله له څه ویرې پرته بالکل ښکاره ګشت او ګذر کوي.

د افغانستان زیاتره وګړي دا اندیښنه هم لري چې امریکا اصلاً نه غواړي په افغانستان کې خپلو اصلي موخو ته تر رسېدو وړاندې ناامني ختمه کړي او ولس د آرام ساه واخلي، ځکه خو ورځ تر بلې وسله والې ډلې تېلې نور هم زیاتېږي خو ددې برعکس د افغانستان پوځ او پولیس لا تراوسه په ښه وسلو سنبال نه دی چې ددغو وسله والو ګروپونو په خلاف مؤثر عملیات وکړي. همداراز دهغو هېوادونو په خلاف هم هېڅ ډول ګامونه نه پورته کوي چې افغانستان ته د وراني ویجاړې لپاره خپل پوځ او جاسوسان استوي او هره ورځ د لسګونو بې ګناه وګړو په وینو لاسونه سره کوي.

د افغانستان وګړي پوښتنه کوي چې تر څو به د مړګونو، سلګیو، اهونو او ویرونو په ګرداب کې ژوند کوي او تر څو به دهغو امریکایي او ناټو ځواکونو شتون زغمي چې په تېرو یولسو کلو کې افغانانو ته له ترهګرې، ویر، غم او اندېښنو پرته نور څه نه دي ور کړي، په داخل کې هم د وسله والو ګروپونو د پیدا کولو هلې ځلې کېږي او له بهرنیو هېوادو څخه هم ډلې ډلې وسله وال جنګېدونکي د افغانستان خاورې ته دننه کېږي خو راغلي میلمانه پوځیان ایله دهغوی ننداره کوي او دهغوی په تس کې بې ګناه افغانان وژل کېږي.

د زیاترو افغانانو په خوله همدا یوه خبره ده چې امریکا او ناټو غړي هېوادونه دې نور په افغانستان کې د پیشو موږک لوبې ته د پای ټکی کېږدي او ددې پرځای چې د افغانانو په ټپونو مالګه مرچ ودوړوي، ښه به دا وي چې نور خپله قبله صحیح کړي او له افغانانو سره خپل پیل کړی مداریتوب ختم، او د متقابله احترام په چوکاټ کې د بین المللي اصولو په مطابق خپل ورسپارل شوې مسؤولیت ترسره کړي.

که نه نو هغه ورځ لیرې نه ده چې د افغانستان د کړېدلي ولس له توپاني قیام سره به مخامخ شي او د خس او خاشاک په څېر به له ځان سره وبهیږي.

حلال او حرام دواړه څرګند دي خو عمل کوونکي ورباندې نشته!

محمد خلیل

تېره اونی د لیندی په دویمه د افغانستان د علماو سرتاسري شورا پخپل په یوه پریکړه لیک کې ځانمرګي بریدونه حرام او ناروا وبلل، لدېنه وړاندې د جامع الازهر پوهنتون یو لوی مفتي طنطاوي او سږ کال د حج په خطبه کې د سعودي عرب لوی مفتي شیخ عبدالله بن عبدالعزیز هم د ځانمرګي بریدونو په اړه د حرمت فتوه صادره کړې وه، خو مخالفینو، نه یواځې دا چې دهغوی له دغو فتوو نه ناخبري وښودله بلکې ویې ویل چې موږ خپل مفتیان لرو او دهمغوی فتوې موږ ته د منلو وړ دي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د اسلام په سپېڅلي دین کې حلال او حرام دواړه څرګند دي، که څیني شیان د حلال او حرام ترمنځ مشتبهات دي نو اسلام له هغوی نه هم د ځان د ساتلو تأکید کړی دی، مطلب دا چې په اسلام کې نه یواځې د حرامو کارونو څخه د ډډې کولو حکم شوې بلکې د مشتبهاتو څخه هم ډډه کول ضروري ګرځول شوي دي، څرګنده خبره ده چې کله د اسلام په دغو لارښوونو او احکامو کلک عمل وشي نو په ټولنه کې د هر ډول ناروا او حرامو کړنو مخه پخپله ډب کېږي نه شکایتونو او فریادونو ته اړتیا پیدا کېږي او نه هم آهونو، اسویلو او ژړاګانو ته.

د افغانانو مشکل یواځې ځانمرګي بریدونه نه، بلکې ددې په څېر بې حسابه نور بوګنوونکي کړاوونه هم شته چې زموږ د ولس ژوند یې له ستر عذاب او غم سره مخامخ کړی دی، که څه خلک په ځانمرګي بریدونو کې خپل قیمتي ژوند له لاسه ورکوي نو ډېرې خلک د محلي او سیمه ییزو بدمعاشانو، بې مسئولو وسلوالو، اجرتي قاتلینو، داړه مارانو، ډاکوانو او لوټمارانو له لاسه په اور ولاړ دي او هره ورځ په هره قریه او کلي کې د بې ګناه وګړو وینې تويږي او د ژوند ډیوه یې مړه کوي چېرته والي ولسوال، قوماندان، قاضي او ښاروال دلاسه خلک کړېږي او چېرته په کور کلي کې د خان، ملک، وسله وال بدمعاش، زورواک او نورو مافیایي کړیو دلاسه. چېرته د چا لور تښتول کېږي او چېرته د چا زوی، چېرته پر معصومې جلۍ او چېرته پر معصوم ماشوم جنسي تیری کېږي، چېرته د چا سر پری کېږي او چېرته دچا لاسونه او پښې، که د دولت له واکمنۍ نه په آزادو سیمو کې زورواکانو د ظلم، وحشت، بربریت او اذیت بازار ګرم کړی دی نو د دولت په تصرف کې مرکزي ولایتونو او غټو ښارونو کې پخپله حکومتي لوړ پوړو چارواکو د ځنګل قانون رایج کړی دی. هر چېرته او په هر ځای کې د رشوت، درغلی او د فساد بازار ګرم دی، څوک زمکې غصبوي او څوک بانکونه او بیت المال لوټوي، هر زورواک د خپل وس مطابق فساد او درغلی ته ملا تړلې او په دومره بې رحمی د افغانستان په ورانولو او لوټولو لاس پورې کړی چې ته به وایې د چنګیزخان او هلاکو خان بې رحمه لښکر افغانستان ته راغلي، بې کیفیته درملو او جعلي ډاکټرانو د خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کړې، دکانداران تاریخ تېر او خوسا خوراکي توکي پلورې چې هغه هم په وزن پوره نه وي او د تیلو په پمپونو کې د سوچه تیل پرځای ګډ شوی او ملاوټې تیل خرڅېږي، لنډه دا چې په دې هېواد کې داسې قانون، اخلاق او کړنې نه تر سترګو کېږي چې د اسلام او مسلماني ترجماني وکړي او څوک دی په پوره فخر سره په جګو سترګو دا دعوه وکړی شي چې موږ د نړۍ تر ټولو د غوره نظام پیروان یو، په داسې حال کې چې د افغانستان هر وګړی په ځانګړی ډول ټول باسواده او تعلیم یافته اشخاص له حلال او حرام نه ښه خبر دي.

زموږ د افغانانو لوی مشکل دا نه دی چې حق او باطل نه پېژنو او یا د حلال او حرام ترمنځ توپیر نه شو کولې چې د علماو په فتواګانو له ناروا او نه لاس اخستو ته چمتو شو بلکې زموږ غټ مشکل پخپل دین او قانون د پوهېدو باوجود عمل نه کول دی. له ولسمشر کرزي نه نیولې هر وزیر، والي، ولسوال، قاضي، رئیس، مدیر، مامور، ښوونکی، سیاسي مشران، د پارلمان وکیلان، لیکوالان، خطیبان، ادیبان او قومي مشران حلال او حرام ډېر ښه پیژني مګر له بده مرغه د فساد او درغلی کچه په همدوی کې لوړه ده، هر چېرته او په هر ځای کې همدوی د قوم، ژبې، رنګ، سمت، مذهب او عقیدې په نوم د فساد او عصبیت زهر پاشلې دی، که د یوې ډلې مشر یو څیز ته حرام ووایي نو بل یې د حلالوالي فتوه ورکوي، که یوه یې یو کار د ولس او خاورې په ګټه وبولي نو بل یې په تاوان بولي تنقید د اصلاح لپاره نه بلکې د تخریب لپاره یې کوي، ډېر د تاسف ځای ده، چې په دې هېواد کې د الله تعالی د غلامي او د اسلامي قانون د پیروي پرځای د ګیډې او نفس غلامي او پیروي کېږي، د محمد صلی الله علیه وسلم پر سنتو د عمل پر ځای پر شیطاني لارو عمل کېږي، د حق پر ځای ذاتي ګټو او له ولس او خاورې سره د مینې پر ځای له پیسو سره مینه کېږي، په داسې حال کې چې د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم داسې خلکو ته ښیرا کړې ده او فرمایلې یې دي چې د پیسو بندګې کوونکی دې هلاک او برباد شي. نو ځکه له دې هلاکوونکی حالت نه د نجات لاره یواځې د فتواګانو صادرول نه، بلکې د اسلام پر سپېڅلی نظام بشپړ عمل دی. الله تعالی د قرآن کریم په شکل کې اسلامي نظام یې په دې خاطر را استولې دی چې مسلمانان دهغه د لارښوونو په رڼا کې ژوند تېر کړي او محمد صلی الله علیه وسلم یې په دې غرض مبعوث کړی چې د ژوند په ټولو چارو کې خپل مطاع او مقتدی وګرځوي خو ډېر افسوس چې موږ دواړه کارونه پرېښي او د خپلو نفساني غوښتنو پیروي مو خپله کړې چې له تباهي پرته بل هېڅ ګټه پکې نشته.

د بیان ازادي؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... مشکلات موجود دي په داسې شرایطو کې د بیان بې جلبه آزادی له دې پرته چې دښمني راپیدا کړي اختلافات او بې ثباتي زیاته کړي، د بهرنیو مداخلاتو لپاره پراخه زمینه برابره کړي او د جنګ په اور پطرول وشیندي بل هېڅ څه پیغام نه لري.

غوره به دا وي چې د بیان آزادي په تدریج سره د شرایطو او ظروفو مطابق خپل ځای ونیسي او د شرایطو د مساعدت سره خپل مناسب او معقول مقام ترلاسه کړي چې د ملي وحدت، ترقي او موفقیت راز پکې پیدا شي او بالاخره سالم او معقول انتقادات د بیان د سالمی آزادی په نتیجه کې تحقق پیدا کړي.

د بیان د آزادی شرایط، ظروف او د تطبیق ساحه یې د لاندې شرایطو د موجودیت په صورت کې کیدلې شي، د بیان کامله آزادي منځ ته راولې:

۱- د قانون په چوکاټ کې د بیان آزادي.

۲- د کلام عفت ساتل او د بل چا توهین نه کول.

۳- سالم او معقول انتقادات چې قومي، ژبني، تنظیمي او نورو شخصي اختلافاتو په موخه وي.

۴- د انتقاد ترڅنګ د حل معقولې لارې چارې پکې لټول شوې وي او محض د تخریب او دښمني په مقصد نه وي.

۵- په هېواد کې د بشپړ عدالت د تأمین په صورت کې چې عدلي، قضایي او کشفي اداري په حالاتو پوره تسلط ولري چې سرغړونکی مجازات او منتقد په ټولنه کې با عزته شي.

۶- د بیان آزادي د پردو د لارښوونو او پروګرام لاندې نه وي چې د ملي حاکمیت او زمکنی بشپړتیا په خلاف ترسره کېږي او زیاتې ناخوالې منځ ته راوړي.

۷- نیوکې او وړاندیزونه د هر چا په خوله نه وي بلکه هغه اشخاص دی انتقاد وکړي چې د هېواد په اداري او سیاسي نظام کې پوره او هر اړخیز معلومات ولري او د روانو مشکلاتو او مجبوریتونو خبر وي. او یا په پورته مسایلو ځان پوره پوه کړې وي او دهغې په رڼا کې سالم او معقول انتقادونه وکړي، پدې صورت کې به د بیان دا لازمه حق هم اداء شي او ناوړه استفاده به ورڅخه هم نه کېږي.

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

(به ادامهٔ شماره گذشته)

حضرت علی کرم الله وجهه میفرماید: قلب جوانان مانند زمین خالیست هر چیزیکه در آن قرار گیرد میپذیرد. میفرماید: ای جوانان آبرویتانرا با ادب تان و دین تان را با دانش تان حفظ کنید.

بلی ! علی جوان بود که قلب اش بخاطر خدا می تپید در مدرسه پیامبر تربیت یافته بود، الگوی از علم و شجاعت، حلم و قناعت بود، اولین جوان بود که در سن خوردسالی به دین اسلام مشرف شد، مردی دلیری بود که در خوابگاه پیامبر در اثنای که مشرکان انتقام جو به تعقیب پیامبر بودند خوابیده بود و از هیچ دشمن نمی هراسید، ایمان در قلبش میجوشید، آبروی خود را با ادب خود و دین خود را با دانش خود حفظ نموده بود. جامعه شناسان مسلمان همچو بشارت علی جامعه شناس قرانی، اقبال لاهوری و ابو علی مودودی پاکستانی، ابن خلدون اندلسی، سید قطب و محمد قطب مصری، صدر عراقی، مالک بنی در الجزایر، مطهری و شریعتی ایرانی، فارابی در افغانستان سعی و تلاش فراوان بخرچ داده اند، تا بخاطر تربیه سالم جوانان و نقش آن ها در تصمیم و گسترش فکر و فهم و ارزش های دینی در جوامع مختلف نشانه های ماندگار را در تاریخ جامعه شناسی اسلامی بجا گذاشته اند که با مرهون این نویسند گان بزرگ تاریخ که به رشته تحریر درآورده اند. گرچه نقش جوانان در پیشبرد رسالت اسلام تشریح مینمائیم، شکی نیست که دوشیزه گان با ایمان نیز در مسؤولیت پیشبرد رسالت اسلام و رسانیدن آن به زنان شریک هستند زیرا ما زمانیکه جوانان می گوییم منظور ما تنها جوانان ذکور نیست بلکه ایشان را با اصطلاح اهل سنت بر وجه تغلیب ذکر میکنم و خطاب متوجه هر دو جنس است و این (تغلیب) بدان جهت که جوانان ذکور تحرک و نشاط بیشتری دارند و در گشت و گذار آزادتر و در گردهمایی و ملاقات با یکدیگر تواناتر هستند.

نقش جوانان را ما نسبت به بزرگ سالان بخاطری بیشتر و درست تر به کار میگیریم که تکلیف جوانان و آماده گی آنها برای حمل مسؤولیت ها و ادای امانت که عبارت از تبلیغ احکام الهی است در مواقع متعدد و جاهای گوناگون توجه زیادی نشان داده اند. خداوند امتیاز خاص برای جوانان قایل شده است که ما آنرا در حدیث نبوی خوبتر میتوانیم ارزیابی نمائیم، در حدیث که شیخان روایت کرده می فرماید: یعنی: هفت تن را الله تعالی در روزی که سایهٔ جز سایهٔ عرش او وجود ندارد در سایهٔ عرش خویش که از جمله آن هفت تن یک هم جوانی را ذکر میکند که در دعوت پرورد گارش شهوات و لذایذ ترک گفته و در همچو مرحله رشد و نمو کرده است. حتی اگر زن تقاضای مباشرت غیر مشروع در اثنای جوانی که حاکمیت احساسات بالای عقل به حدی است که چون سیلابی که از کوه ها سرازیر شود و هیچ مانع آنرا سد نمی تواند. بلی ! زمانیکه یک جوان معتقد به خدا در شرایط احساسات گرم جوانی خود را از میلان به نامحرم حفظ نماید حق است که پرورد گار گرمی را که در صحرای عرصات بر او وارد می شود از وی دفع نموده در سایهٔ عرش خویش نوازشش میکند. همچنان پیامبر صلی الله علیه وسلم بخاطر غنیمت شمردن فرصت ها جهت تکمیل شخصیت از ناحیه روحی و جسمی، عقلی، اخلاقی و نفسی در جای دیگری جوانان را مورد خطاب قرار میدهد تا از فرصت های جوانی که دیگر غیر قابل بازگشت نیست استفاده نمایند. در جمله پنج چیز را که میگوید قبل از پنج چیز غنیمت بداند، در یکی آن غنیمت ایام جوانی را ذکر میکند (جوانی را پیش از پیری غنیمت بدان) بخاطریکه در پیری دیگر نمیتوان با قدرت و نشاط به همه چیز رسید گی شود، زیرا این قدرت خدادادیکه، خداوند در جوانی برای مخلوقش اعطا فرموده در زمان پیری مستحق نمی شود، و این قانون حاکم بر نظام طبعیت است که از طفولیت به جوانی و از جوانی به پیری، یعنی از کم توانی به توانایی و از توانایی به ضعف و یا پیری مراحل است که باید پیموده شود. بناء در همچو فرصت های زود گذر را نباید رایگان از دست بدهیم. کسانیکه تمام ایام جوانی را غافلانه در خوابهای شیرین در تفکرات واهی و میان تهی در دنیای عیش و عشرت، در اسراف و بی بندوباری در زنا و قمار در دین گریزی و الحاد کمونیزم و سکولریزم و اگزیسالیزم و مادی گرایی سپری می نمایند، و زمانی فرا میرسد که آخرین نفس های زند گانی را میکشند و از کیفیت عبادت به خدا و بیخبر و بی ایمان از دنیا میروند. که (پشیمانی سودی ندارد) وقتیکه بخاطر محاسبه مسؤولیت های شان به حضور پرورد گار پیش می شوند. در حدیث دیگری که ترمذی روایت نموده می فرماید: بمجردیکه فرزند آدم در روز قیامت به میدان حشر به نزد پرورد گارش می رسد. از پنج چیز پرسیده می شود از عمرش که درجه کار سپری کرده است و از جوانی اش که در چه چیز گذرانیده است و از مالش که از کجا بدست آورده در کجا تصرف نموده است و از علمش آنچه آموخته تا چد حد عمل نموده است.

امریکا بار دیگر تلاش ...

متشنج بین امریکا و پاکستان، دوباره رو به بهبود نهاده است.

بعد از مذاکرات پراکنده در دوسال گذشته، طالبان در ماه مارچ این مذاکرات را متوقف ساخته و ایالات متحده را متهم نمودند که در این مذاکرات جدی نیست، مخصوصاً در آزادی محبوسین طالبان از زندان گوانتانامو.

بعد از آن حتی اگر طالبان می خواستند که دوباره به میز مذاکره برگردند، امریکا مشغول مبارزات انتخاباتی خود و جنگ های تابستانی در افغانستان بود.

اما حالاچندین مقام امریکا که نخواسته اند نام هایشان ذکر شود به روزنامه واشنگتن پوست گفته اند، انتخابات گذشت و موسم جنگ های شدید تابستانی در افغانستان هم سپری شد و حالا امریکا از منابع مختلف نشانه های را بدست می آورد که طالبان می خواهند دوباره به میز مذاکره برگردند.

یک مقام وزارت خارجه امریکا بطور جداگانه گفته است به نظر وی این مهم است که اگر طالبان می خواهند به صحبت حاضر شوند، امریکا هم آماده آن باشد.

ایالات متحده همزمان با این حکومت رییس جمهور کرزی را تشویق می کند که مذاکرات صلح جداگانه خود را با طالبان آغاز نماید.

در اواخر از سوی پاکستان هم علایمی مشاهده می شود که حاضر است در برنامه صلح افغانستان کمک کند و آزادی محبوسین طالبان نمونه آن می باشد. به هر حال در باره موقف پاکستان هنوز هم شک و تردید وجود دارد.

یک مقام امریکایی گفته است امریکا می خواهد به طالبان بگوید که بیائید به میز مذاکره برگردید و مذاکرات را شروع کنید. اما سوال اینجاست که آیا پاکستان تمایل و توانائی راضی ساختن آنها را به این عمل دارد یا نه؟

په افغانستان کې به د ...

د پاکستان د کورنيو چاور د وزير وروستي څرګندوني په هېواد کې له توندو غبرګونو سره مخامخ شوې.

يو شمېر افغان کارپوهان دغه ډول څرګندوني د افغانستان په خمکنۍ بشپړتيا ښکاره تېری ګڼي او وايي، چې پاکستان په داسې بيانونو سره خپل اهداف تعقيبوي.

د پاکستان د نيوز ورځپاڼې د راپور پر اساس د پاکستان د کورنيو چارو وزير رحمان ملک، چې د خيبر پښتونخوا په چترال سيمه کې يې خلکو ته وينا کوله وويل، که چېرې له دې نه وروسته د افغانستان له خاورې په حملو کې کوم پاکستانی مړ شو په افغانستان کې به د تروريستانو په پټنځايونو باندې د پاکستان له خوا پټ عمليات ترسره شي.

ښاغلي ملک اشاره د پاکستان د تحريک طالبان دوو قوماندانو مولوي فضل الله او فقيرالله ته وه، چې د ده په وينا په افغانستان کې پټ دي.

په افغانستان کې د نظامي چارو يو شمېر کارپوهان وايي، چې پاکستان اوس هم د افغانستان په اړه له دوه ګوني سياست څخه لاس نه دی اخيستی، د دوي په وينا له تصور نه لرې نه ده، چې پاکستان د پټو عملياتو په نامه په افغانستان کې د دولت وسلوالو مخالفينو ته وسلې ولېږدويد

پوځي چارو يو شمېر افغان کارپوهان وايي، د پاکستان د کورنيو چارو وزير وروستی څرګندونې چې ګواکې موږ به په افغانستان کې پوځي عمليات وکړو د افغانستان په خاوره ښکاره تيری ګڼي.

د پاکستان د کورنيو چارو وزير رحمن ملک ويلي و، دغه عمليات د پاکستان د تحريک طالبانو په دوو پياوړيو غړيو د مولوي فضل الله او فقيرالله پسې کيږي.

پاکستان ادعا لري، چې ياد کسان د افغانستان په ختيځ کې پټ شوي او په پاکستان کې عمليات کوي.

د افغانستان د ولسي جرګې يو شمېر غړي د پاکستان د کورنيو چارو د وزير دغه څرګندوني غير مسوولانه بولي.

د پاکستان د کورنيو چاور د وزير وروستي څرګندوني په هېواد کې له توندو غبرګونو سره مخامخ شوې.

يو شمېر افغان کارپوهان دغه ډول څرګندوني د افغانستان په خمکنۍ بشپړتيا ښکاره تېری ګڼي او وايي، چې پاکستان په داسې بيانونو سره خپل اهداف تعقيبوي.

د پاکستان د نيوز ورځپاڼې د راپور پر اساس د پاکستان د کورنيو چارو وزير رحمان ملک، چې د خيبر پښتونخوا په چترال سيمه کې يې خلکو ته وينا کوله وويل، که چېرې له دې نه وروسته د افغانستان له خاورې په حملو کې کوم پاکستانی مړ شو په افغانستان کې به د تروريستانو په پټنځايونو باندې د پاکستان له خوا پټ عمليات ترسره شي.

مړه يې مه بولئ ژوندي دي

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهيدانو ياد

د جهاد اتل شهيد مولوي غلام صديق (خدايدوست) د شهادت د ديرشمې کليزې په ياد

د مومندرې حوزې عمومي قوماندان شهيد مولوي غلام صديق (خدايدوست) د حاجي ملک عبدالهاشم څوی په کال ۱۳۳۶ هـ ش کې د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالی په کندي کلي کې زېږيدلی و.

ابتدائيه زده کړې د کامې اخند کلي په لومړني ښوونځي کې تر شپږم ټولګي، او ثانوي زده کړې يې د ننګرهار ولايت د نجم المدارس په مدرسه کې تر دولسم ټولګي پورې ترسره کړي. د فراغت څو ورځې پاتې وې چې د کمونيستانو له خوا د ثور کرغېړنه کودتا وشوه څرنګه چې شهيد غلام صديق پخپل هېواد کې الحادي نظام نه شوه زغملی نو د همدې کال د عقرب په مياشت کې پاکستان ته مهاجر شو او د ۱۳۵۸ ل کال په لومړيو ورځو کې د شهيد نادرخان تر قوماندانی لاندې د مجاهد په حيث، بيا دهغه له شهادت وروسته د شهيد احمد هجرت تر قيادت لاندې د يو ګروپ د قوماندان په حيث يې جهاد ته دوام ورکولو کله چې په ۱۳۵۹ ل کال احمد هجرت په شهادت ورسيد نو د مجاهدينو د غوښتنې په اساس مولوي خدايدوست د مهمندرې جبهې د عمومي قوماندان په حيث وټاکل شو.

نوموړې د خپلې قوماندانې پر مهال د روسانو او کمونستانو په خلاف درنې جګړې او عمليات ترسره کړل زياتې پوستې او منطقې يې فتحه او د حکومت له ولکې څخه يې خلاصې کړې خو ګڼ شمېر مجاهدين هم زخميان او په شهادت ورسېدل.

مولوي خدايدوست دنګ او ښايسته شاه زلمی ؤ، پيغمبري څنې يې لرلې، تل به يې شل ډزې ټوپک په اوږه ؤ او د تعرض په لومړي ليکه کې به د مجاهدينو قيادت کاو. با استقامته او د لوړې حوصلې لرونکی زړه ور قوماندان و.

د جهادي شخصيت ترڅنګ علمي او سياسي شخصيت هم ؤ، د عملي جهاد ترڅنګ واعظ او د الله د لارې داعي هم ؤ، څه به يې چې په لاس کې ؤو په دوستانو او مجاهدينو به يې مصرفول، د مجاهدينو سره يې د يو ملګري په حيث ژوند تېرولو، د قوماندانی او مشرۍ اکټونه او حرکتونه يې نه لرل. بلکې ډېر عادي، بې تکلفه، بې کبره او باعزته شخص ؤ، مجاهدينو سره به يې آزادې ټوکې ټکالې کولې، او خوشحال به يې ساتل.

شهيد مولوي غلام صديق (خدايدوست) بالاخره په ۱۳۶۱ کال د ليندۍ د مياشتې په دولسمه د جمعې مبارکې په ورځ د ۱۲ بجو پر مهال له روسانو سره په يو مخامخ جګړه کې په شهادت ورسېد او له دې پاتې او نيمګړې دنيا څخه يې سترګې پټې کړې، الله جل جلاله دې دهغه شهادت قبول او روح دې ښاد او جنت الفردوس دې آرامګاه وګرځوي.

راشه د بلې دې خبر کړم!

عبدالله کامه وال

❁ د هندوستان خلکو د ماشو عبادت پیل کړ

د نوي ډېلي د جهارکهنډ سیمې خلکو وروسته له هغې د ماشو عبادت پیل کړ چې د ډېنګي او ملاریا ناروغیو څخه په تنګ شول.
دوې فکر کوي چې ژوند یې د ماشو په لاس کې دي نو ځکه یې د دغه دوه وژونکو ناروغیو څخه د خان خلاصونې په موخه د ماشو عبادت ته ملا وتړله.
د دغه سیمې خلک وایي دولت دغلته د ګنده ویالو د پاکولو او سرسبزه پارکونو په جوړلو کې پاتې راغلې له همدې امله دوې د ماشو عبادت کولو ته اړ شول تر څو د ملاریا او ډېنګي له وژونکو ناروغیو څخه وژغورل شي.
هندوستان
دوې د عبادت څخه وروسته له ماشو څخه د رحم غوښتنه کوي او ترې غواړې چې ژوند یې وژغوري. دې ته وایي جهالت ، دا د هندوانو لومړنی ځل نه دی چې د داسې یو څیز عبادت ته کلا تړي چې د انسان هیڅ نه شي کولای بلکې هندوان نور هم ډېر له جهالته ډک د عبادت ډولونه لري چې ښکاره یې د اور ، اوبو ، مارانو ، غواګانو او نورو شیانو عبادت دی . دعا کوو چې الله دې دوې ته صراط المسقیم لاره وښایي -امین

* * *

❁ دبوتان بادشاه درحمان بابا شعر چیلینج کړ

تیره ورځ د بوتان د پاچا د واده مراسم په شاهي مراسمو سره ترسره شول ، د بوتان دا ځوان پاچا جمګی وینګ چک یودیرش کاله عمر لري او له یوې داسې نجلی سره یې واده وکړ چې له شاهي خاندان سره هیڅ ډول اړیکي نه لري.
هغه نجلی چې پاچا ورسره واده وکړ جیت سن نومیږي ، یو ویشت کاله عمر لري او د یوه ښوونځي زده کوونکی وه.
ددغه نجلی پلار په دولتي هوایي شرکت کې د پیلوټی دنده لري.
د بې بې سي اردو د خبر له مخې چې پاچا دغه نجلی له پخوا پیژندله او مینه یې ورسره لرله.
که څه هم د رحمان بابا د عزیزخان او ملنګ عبدالرحمن شعر اوس مهال په پښتني ټولنه کې عملي نه شو خو د بوتان پاچا د رحمان بابا دغه شعر ته چیلینج ورکړ چې.
نه شي د خانانو د ملنګو سره کلي ... چیرته عزیز خان چیرته ملنګ عبدالرحمن
د سرچینې په حواله چې د واده په میلمستیا کې په سلګونه د بوتان اوسیدونکو ګډون کړې وه او د واده لپاره د بوتان مرکز په رناګارنګ ګلانو ښکلی کړای شوی و.
د بوتان دغه ځوان پاچا په برتانیا کې زده کړې کړي او د خپل پلار څخه وروسته د پاچاهی چارې سمبالوي.
دا خبر ماته ځکه ډېر جالبه دی چې زموږ او ستاسې په ټولنه کې غریبې طبقې ته خلک په حقارت ګوري او په ښارونو کې خو غریبو سوالګرو نجونو ته د خیرات د ورکړې پرمهال پرې مړوندونه هم ورتاو وي.

* * *

❁ عبدالرحمن مراد د ۹۳ زامنو پلار دی

د یوې ایرانی ویب پاڼې د خبر له مخې چې د متحده عربي اماراتو یو اوسیدونکې عبدالرحمن مراد چې یواځې ۹۳ زامن لري په تیر کوچني اختر کې یې تر ۵۰زره درهمو چې ۳۵۰زره افغانی کیږي پورې یوازې د اختر پیسي خپلو بچیو ته ورکړې دي.
ویل کیږي چې د عبدالرحمن د کورنی د غړو شمیر ۱۴۲ تنو ته رسیږي.
د ویب پاڼې په حواله عبدالرحمن مراد د پوځ متقاعد عسکر دي چې اوس مهال څلور میرمنې لري او اتلس میرمنې یې پخوانی دی چې طلاق یې ورکړی دی.
عبدالرحمن ویلي : غواړې چې د راتلونکي میلادي کال پورې د سلو بچیانو پلار شي.
عبدالرحمن دا هم ویلي چې د میاشتې ۶۰ زره درهمه خرچه لري او دولت هم ورسره مرسته کوي ، هغه وایي چې دولت ترې د کور کرایه ، د اوبو او بریښنا د بل پیسې نه اخلي.

ناتو به دستگیری شورشیان ادامه میدهد

این در حالی است که حامد کرزی، رییس‌جمهور افغانستان پیش از این در جلسه شورای امنیت ملی گفت که از این پس هیچ کشور خارجی اجازه بازداشت افغان‌ها و داشتن زندان در افغانستان را ندارد

کابل، رسانه ها:
سازمان پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) اعلام کرد، نیروهای این ائتلاف بین‌المللی به دستگیری و زندانی کردن شورشیان در افغانستان ادامه می دهند.
به گزارش گران افغانستان، گونتر کاتز، سخنگوی سازمان پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) در واکنش به اظهارات مطرح شده در شورای امنیت ملی افغانستان اظهار داشت، نیروهای بین المللی به بازداشت شورشیان در جریان درگیری ها ادامه خواهند داد.
این در حالی است که حامد کرزی، رییس جمهور افغانستان پیش از این در جلسه شورای امنیت ملی گفت که از این پس هیچ کشور خارجی اجازه بازداشت افغان‌ها و داشتن زندان در افغانستان را ندارد.
دولت افغانستان اعلام کرد، نگهداری زندانیان توسط نیروهای بین‌المللی حاکمیت ملی این کشور را نقض می کند اما سخنگوی نیروهای ناتو در کابل به خبرنگاران گفت که نیروهای بین‌المللی به بازداشت شورشیان در جریان درگیری‌ها ادامه خواهند داد.
کاتز گفت: نیروهای بین‌المللی کمک به امنیت در افغانستان (ایساف) و نیروهای امنیتی افغان به گونه‌ای مشترک به بازداشت شورشیان در میدان جنگ ادامه می‌دهند.
به گزارش بی.بی.سی، وی افزود: فشارهای بیشتری بر آنها وارد می کنیم و انتقال آنها را از میدان جنگ (به زندان) نیز ادامه می‌دهیم. این یک موضوع دوجانبه است.
در همین حال، هفته گذشته انگلستان اعلام کرد که به دلیل بدرفتاری در زندان‌های افغانستان، نمی‌تواند بازداشتی های افغان را به دولت این کشور تحویل دهد.
با این حال، حامد کرزی از اداره امنیت ملی خواسته در مورد وجود زندان تحت کنترول اردوی انگلستان و همچنین دیگر نیروهای بین‌المللی تحقیق کند. کرزای دستور داده در صورتی که زندانی تحت کنترول نیروهای بین‌المللی باشد، بازداشتی‌های افغان آن بی درنگ به زندان‌های تحت کنترول دولت افغانستان منتقل شوند.

اسلام اباد او واشنګټن ترمنځ بیا دیارانې تار په غزیدو دی

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل ، چې دواړه هېوادونه د خپلو اړیکو د بیا ټینګولو هڅې کوي.
د پاکستان ډان ورځپاڼې د رپوټ له مخې ویکټوریا نولنډ په بروکسل کې د سې شنبې ورځې هغه خبرو ته اشاره وکړه و چې د پاکستان او امریکا د بهرنیو چارو وزیرانو سره لیدلي و هغې وویل:
دواړه خواوې په دې هڅه کې دي ، چې خپلې اړیکې په اصولي لارو بیا ټینګې کړي.
د ویلو ده ، چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیره حنارباني او د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن د سې شنبې په ورځ به بروکسل کې د ناټو ناستې په څنډه کې سره لیدلي و.

د مچلغو پر بند بورنوونکي ...

نه دی، خو په هغه ډول چې زه یې غواړم نور مجاهدین به یې ځکه راسره ونه منې چې بیا به ټول د ده په وژنه کې برخه نه شي اخېستلای.
په دې توګه پرېکړه کېږي چې خان ولي په ۸۲ملي متري توپ والوزول شي. خان ولي ۴۰ ګزه وړاندې په ګونډو کېږي او بیا په ډېر وحشت سره په توپ الوزول کېږي. د خان ولي ټوټې ټوټې مړی اته ورځې وروسته راټولېږي او خاورو ته سپارل کېږي. دا پېښه د ۲۰۱۱ کال په نیمایي کې شوې ده او ویډیو یې وروسته یو ټیوب ته پورته شوې ده.
د ټایم په وینا د خان ولي جرم دا و، چې ده غوښتل په پکتیا کې د مچلغو د بند پروژه وساتي. که چېرې د مچلغو د بند پروژه بشپړه شي، نو ۴۰ زره ایکړه ځمکه به خړوبه کړي او ۸۰۰ کیلو واټه بریښنا به تولید کړي.
د ټایم په وینا ایران او پاکستان د افغانستان اوبو ته اړ دي او په ځانګړې توګه پاکستان ورځ په ورځ داوبو له کمښت سره مخ کېږي او له همدې امله یې اوبه د افغانستان له جګړې سره تړلې دي. بل خوا ایران یوازنی هېواد دی چې افغانستان د اوبو په اړه ترون ورسره لري، خو د جګړې له برکته ایران د ترون تر توافقاتو ۷۰ ٪ زیاتې اوبه اخلي. له همدې امله ایران او پاکستان په افغانستان کې د اوبو په برخه کې له پروژو سره کلک مخالفت لري. نړیوال بانک او نور مرستندویه هېوادونه له همدې امله د اوبو او برېښنا په برخه کې ډېره لږه پانګونه کړې ده. په تېرو یولسو کلو کې یوازې ۵٪ مرستې د اوبو په سکتور کې لګول شوې دي او منتقدینو په وینا هغه زیاتره په وړو پروژو کې چې اوږدمهاله ګټې نه لري. د اوبو او برېښنا په وزارت کې ځینې چارواکي وایي چې نړیوال بانک په دغه سکتور کې د پانګونې لپاره له ایران څخه اجازه غواړي، خو څرنګه چې ایران له خپل نفوذ څخه کار اخلي اوس نړیوال بانک په دغه سکتور کې له مرستې بیخي په شا شوی دی.
په رپوټ کې د هرات د سلما بند په اړه هم تبصره شوې ده. د ټایم په وینا سلما هغه بند دی چې له جوړېدو سره به یې ۱۸۵ زره ایکړه ځمکه خړوب شي او ۴۲ مېګا واټه برېښنا به تولید کړي. د دغه بند جوړېدل څلور کاله تر ټاکلي وخت ځنډېدلي دي او لګښت یې دوه برابره زیات شوی او ښایي ۵۰ ٪ نور هم زیات شي. ځینې افغان چارواکي وایي، چې هندیانو چې په افغانستان کې لویې لارې په رېکارډ وخت کې جوړې کړې، د ایران د فشار او دیپلوماسی له امله د پروژې جوړول ځنډولي دي. خو هندیان له دې څخه انکار کوي.
ټایم زیاتوي چې که څه هم افغانستان اوس په کافي اندازه اوبه لري، خو په راتلونکو دریو لسیزو کې به یې د سړي سر د اړتیا وړ اوبه ۵۰ ٪ کمې شي. افغانستان د ډېرو خرابو بنسټونو له امله نه شي کولای له خپلو اوبو ګټه واخلي او له همدې امله به د وچکالیو او مهاجرتونو له ستونزو سره مخ شي. افغانستان همدا اوس د نړۍ تر ټولو کمزورې زېرمې لري.

در مجموع من طرفدار برنامه ...

بعضی نقاط مضر واقع شده اند و بالای این پروسه کار می نمایم که دوباره پولیس محلی را به مرور زمان مدغم بسازم با تشکیلات پولیس ملی که آنها پولیس ملی و پولیس تعلیم و تربیه شوند، و پولیس باشد که تنفیذ قانون را کرده بتواند."
در اجلاس عمومی مشرانو جرگه شماری از سناتوران از فعالیت های وزارت داخله انتقاد کردند. این سناتور ضمن نگرانی از بدتر شدن وضعیت امنیتی در برخی از مناطق افغانستان وزارت امور داخله را متهم به بی توجهی کردند.
در این حال وزیر داخله افغانستان برخی از مشکلات را تایید می کند. وی گفت که با ایجاد ستراتیژی پولیس، بخشی از مشکلات مربوط به وزارت داخله حل خواهد شد.
در همین حال کارشناسان امور امنیتی از این اقدام وزارت امور داخله استقبال کرده می گویند، که پولیس محلی تربیه نظامی را نداشته و نمی توانند امنیت را در منطقه تامین نمایند.

پاکستان برای رهایی مقام های ...

اعضای بلند رتبه طالبان را از قید، آزاد سازند.
ولی شورای عالی صلح افغانستان تاکید دارد که امریکا و متحدین دیگر حکومت افغانستان با چگونگی پروسه صلح در افغانستان مشکل و مخالفتی ندارند.
یک مقام پاکستانی که نامش ذکر نشده به روزنامه اکسپرس تریبون گفته است، تازمانی که تمام جوانب درگیر به شمول واشنگتن در پروسه صلح افغانستان شامل نشوند، آنها اعضای ارشد طالبان افغان منجمله ملا عبدالغنی برادر را از زندان، آزاد نخواهند کرد.
به گفته این مقام پاکستانی، اگر کشورش تمام زندانیان طالب را آزاد هم کند و بعداً پروسه صلح ناکام گردد، مسوولیت آن بر عهده پاکستان گذاشته خواهد شد.
در سفر هیات شورای عالی صلح افغانستان در ماه گذشته میلادی به پاکستان، ۹ طالب افغان از رده های متوسط از زندان آزاد شدند.
ولی به گفته رسانه های پاکستانی، در حاشیه جلسات مقامات پاکستانی و افغان، این معلوم شده است که پاکستان برای آزادی ملا برادر و تعدای دیگری از اعضای طالبان، شرط های مهمی دارد که یکی آن، روشن شدن موقف نامعلوم امریکا در این پروسه می باشد.
بر اساس گزارش ها، کابل و اسلام آباد در ملاقات های اخیرشان، فیصله کرده اند باهم یکجا، موضوع چگونه گی پروسه صلح با طالبان و آزادی زندانیان طالب از زندان های پاکستانی را، با مقامات امریکایی، در میان می گذارند.

دغه رنګ موتاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکې اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالخلیل (خلیل)
د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مسترديږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزی رسمي نظر دی
دیزاین خواجه وحیدالله
آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه. خوشال خان مینه . کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com